مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالرحمن فرقانی ۲۰۱۹/۰۸/۱۰

# امارت که جمهوریت؟

که موږ اسلامي تاریخ او په اسلامی تاریخ کې د حکومتولی بیلګي وڅیړو، نو په ډیر روښانه ډول دا راته جوتیږي، چي د اسلام رسالت او لوي هدف په ټول کي دا دی، چي د حکومتولی لپاره داسي سیاسی او ټولنیزنظام رامنځته شي، چي د وروروليی، سربښندنې، عدالت، وسطیت« منځلاریتوب» ،شورا، پر اصولو ولاړ وي او په انسان باندي د انسان واکمني پای ته ورسیږي، د استبداد، ځان غوښتني، فرعونیت جرړې پرې او د هوس واکمني د وجدان پر واکمنی بدله شي. او واکمن په دي حالت او نظام کي یوازې د عدالت او غوره اخلاقو بیلګه او ضمانت وي.

په اسلام کي د حکومتولی مفهوم د خلکو لپاره امنیت او د هغوی د حقوقو تامینول دی، چي که په هر بڼه دا اهداف تامینداى شي، توپیر نه کوي. په اصل کي خلافت، امارت، جمهوریت یا ملوکیت د خلکو د چارو د سمبالښت لپاره د نظام شکلي بڼي دي.

دا ډیره مهمه نه ده چي د نظام نوم د څه وي، مهمه دا ده چي د نظام مفهوم او محتوی متحققه شي، د خلکو حق ورکړل شي، عدالت تامین شی، امنیت ټینګ شي، د الله تعالی عبادت او اسلامی احکام پلي شي.

که موږ په معاصر جمهوریت کي چي ډیری یي دی دیموکراسي پایله او لاسته راوړنه بولي وګورو ، تر ټولو لوی هدف په جمهوریت کي خلکو ته د زعامت په تعین کي حق ورکول دی، چي په دي اړه ورسره مشوره وشي، او خپل زعیم پخپله وټاکي. خو حقیقت بیا دا دی، چي دغه اصل تر دیموکراسی وړاندي اسلام په ډیر صراحت پلی کړی او منلی دی .

دا چي حاکمیت په خلکو پوري تړاو لري، په حقیقت کي تر هر څه وړاندي یو اسلامي مطلب دی. د حاکمیت اعمال یا د خلکو په واسطه او یا هم د استازوي په واسطه په اسلامی نظام کي خپل اصول او تاریخی روښانه شالید لري، چي په موږ یي د اعمال په برخه کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د خلفاء الرشدین تجربي په ترڅ کي بیانولی شوو، دلته موږ د مسالي فقهي اړخ ته نه داخلیږو، یوازې په حقیقت کي دا جوتوو، چي اسلام د حاکمیت د اعمال لپاره خلکو ته حق ورکړي دی او دا مساله د خلفاوو په ټاکنه کي چي په لاندي لنډ تفصیل یي نور هم روښانه او څرګند کیدای شي ، دلته اړین بولو:

د اسلام په سپیڅلی دین کي د حاکمیت اعمال یا د زعامت تعین عام ولس ته پریښودل شوی دی، تر څو خلک د هغو معیارونو او ظوابطو پا پام کي نیولو سره چي قرانکریم او په سپیڅلي نبوي سنت کښ ورته اشاره شوي ده، خپل حاکمیت په هر ډول میکانزم سره چي دوی یي د دغه چارې د عملي کولو لپاره مناسب ګڼی، خپل زعامت وټاکي..د دي لپاره چي دغه مطلب چي اسلام د حاکمیت داعمال په مساله کي خلکو ته حق ورکړي دی، اړینه ده، چي د خلفاء راشدینو د تعین څرنګوالی وڅیړو:

**لومړی: ابوبکر الصدیق:**

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم تر رحلت وروسته، ابوبکر الصدیق رضی الله تعالی عنه د مسلمانانو د زعامت لپاره په سقیفه بن ساعده کي تر مشوره او سلا وروسته چي په اسلامي سیاسی نظام د حاکمیت د اعمال لپاره یو له اساسي بنسټونو او اصولو څخه د قرانکریم په نص سره « و امرهم شوری بینهم» ثابت دی، تر سره شو، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لوری د زعیم یا خلیفه تعینول هم د عمر رضی الله تعالی عنه د روایت پر اساس پر همدي دلالت کوي، چي دا حق خلکو ته ورګرځول شوی دی. عمر رضی الله تعالی عنه د خپل وصیت پر مهال کله چي خلکو ورڅخه د خپل ځای ناستي غوښتنه وکړه وویل: « که ځوک نوماند کړم، ځوک چي تر ما غوره ؤ، یعني ابوبکر الصدیق دا کار کړی دی، او که تاسي ته دا حق پریږدم تر ما او ابوبکر غوره ځوک حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم دا کار کړی دی. په بل روایت کي چي امام احمد په خپل مسند کي اخراج کړی دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم د دي پوښتني په ځواب کي چي ځوک خپل ځای ناستی ټاکئ، فرمایلي دي: « که ابوبکر امیر و ټاکئ، هغه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

په دنیا کې امین اوپرهیزګاره، او د اخرت غوښتونکی ومومئ، او که عمر رضی الله تعالی عنه امیر وټاکئ، هغه به پیاوړی او امین ومومئ، چي د الله تعالی په لار کې د چا له ملامتیا څخه وېره نه لري، او که علی امیر وټاکئ، او فکر نه کوم چي دا کار وکړئ، هغه به هدایت کونکی او هدایت موندونکی و مومئ، چي تاسي به په سمه لار روان کړي. او دا روایت زموږ هغه مدعا چي اسلام دا حق خلکو ته ورګرځولی دی، متحققه کوي. او د امام ابو حنیفه څخه هم روایت شوی دی، چي وايي: « و الخلافه تکون باجتماع المؤمنين و مشورتهم». ژباړه:« خلافت د مسلمانانو په اجماع او سلا سره رامنځ ته کېږي». او د اسلامی امت معاصر علما او مفکرین لکه: عبدالقادر عوده، شهید سید قطب، شیخ تقی الدین النهباني. هم په دي عقیده دي، چي د زعامت او حاکمیت انتخاب په اسلامي شریعت کي امت ته یا ولس ته سپارل شوی دی.

**دوهم: عمر ابن الخطاب:**

که د عمر رضی الله تعالی عنه د ګمارني بهير مطالعه شي، هم دا جوتیږیو چي ابوبکر الصدیق رضی الله تعالی عنّ که څه هم دا کار په خپل ژوند کي تر سره کړي دی، خو دا حق ملت ته ورګرځول شوی دی او له ټولو سره په مکرر ډول مشوره او سلا شوی ده. کله چي ابوبکر الصدیق رضی الله تعالی عنه پوه شو، چي د ژوندانه د پای ورځي يې رارسېدلي دي، نو اصحابو کرامو ته وفرمایل:« چي په خپل منځ کي کښېنئ او زما په ژوندون زما ځای ناستی تعین کړئ!، خو له سلا او مشورې وروسته بېرته ابوبکر الصدیق ته راغلل او ورته يې وويل: چي موږ موضوع بېرته تاسئ ته راوړه!، هغه څه چي تاسي يې پر ځای او سم ګڼئ، عمل پرې وکړئ!، ابوبکر رضی الله تعالی عنه وفرمایل: داسي نه چي بیا اختلاف وکړئ، دوی وویل نه!، نو بیا ابوبکر وفرمایل: آیا د الله تعالی په نامه راسره ژمنه کوئ، چي زما له پرېکړې به راضي وئ، دوی وویل: چي هوکي!، نو بیا ابوبکر الصدیق و فرمایل: ماته وخت راکړئ!، تر څو د الله تعالی او د هغه د دین په هکله سم فکر وکړم.

او بیا يې له بېلابېلو مشرانو او خلکو سره مشوره وکړه، لکه عبدالرحمن بن عوف، عثمان بن عفان، سعید ابن زید، او اسید ابن جعفر.او د مهاجرینو او انصار. اوس که موږ دغه بهير ته ځير شو، په روښانه توګه کتلای شوو، چي ابوبکر الصدیق خلکو ته د نظر ورکولو حق ورکړ او له کومه ځایه چي په دین پوهېده دا حق باید خلکو ته ورکړ شي، تر څو خپل زعامت او حاکمیت وټاکي.. او د عمر رضی الله تعالی عنه زعامت هم د خلکو سره په مشوره ټاکل شوی دی.

**دريم: عثمان ابن عفان:**

د عثمان رضی الله تعالی په ټاکلو کي هم که ځير شوو د الزام صورتحال شتون نه لريو بلکي د مشورې او سلا صورت حال شتون درلود، که څه هم چي عمر رضی الله تعالی عنه د دي کار لپاره شپږ تنه ګمارلي وو، تر څو خپل منځ کي مشورت وکړیو خو د کوم الزام امر يې نه ؤ کړی او نوموړي شپږ کسه هم هغه کسان وو، چي د عشره مبشره له ډلي څخه وو او د عمررضی الله تعالی په قول رسول الله صلی علیه وسلم له دوی څخه راضي ؤ، په دي هکله هغه روایت چي د نه الزام باندي صراحت لري دلته ستاسي مخي ته ږدو: « ابن عمر رضی الله تعالی عنه د حفصي خوا ته ځي او له هغي څخه د پلار د ځای ناستي د نه تعین خبر اوري، او د خپل پلار لور ته ځي، او ورته وايي: خبر شوم، چي خپل ځای ناستی نه تعینوئ!، که تاسي پدوان درلودی او ستاسي د اوښانو یا پسونو رمه يې پرېښي وی، د رمي د ورکي او له منځه تلو فکر بهدي هرو مرو کړی وی په داسي حال کي چي د خلکو او ولس پالنه ډېره مهمه او برخلیک ټاکونکي ده. ابن عمر وايي پوه شوم چي خبرې مي ځای ونیوو پلار مي خپل سر د یوی شیبي لپاره کښېنود او بیا يې سر راپورته کړ، او وویل: له شکه پرته الله تعالی خپل دین ساتي، که ځای ناستي تعین نه کړم رسول الله نه دی ، تعین کړي، او که يې تعین کړم ابوبکر تعین کړی دی، ابن عمر وايي: پوه شوم چي رسول الله ته ترجیح ورکوي. دا ځکه چي ابن عمر د خپل پلار د طبیعت او خوی څخه ښه پوه ؤ. عمر رضی اللهتعالی هم په پراخه کچه سلا او مشوره وکړه او دا حق يې خلکو ته ورکړ.

**څلورم ـ علی ابن ابی طالب:**

علي کرم الله وجهه هم په دي اعتقاد او باور ؤ، چي د حاکمیت د تعین حق د ولس او خلکو حق دی، او له همدې کبله يې د عام بیعت لپاره اصرار او ټینګار وکړ.

د پورتني تفصیل څخه جوتیږي، چي د حاکمیت د اعمال په مساله کي اسلام تر دیموکراسی او نورو وضعی قوانینو وړاندي دا حق خلکو ته ورګرځولی دی، او د خلفاوو د تعین له میکانیزمونو او کړنلارو څخه لاندې موارد د پالي په توګه جوتیږي :

۱. د امیر، زعیم یا رئیس د انتخاب حمیت او پکي تلوار تر څو سیاسی خلا رامنځته نه شي
۲. په امیر، زعیم یا حاکم کي د معینو شرایطو او اوصافو شتون
۳. د امیر، زعیم یا رئیس انتخاب باید په مشوره او د خلکو د رای په اساس تر سره شي.
۴. داچي امیر، زعیم، ولسمشر، ملک، خلیفه یا امام باید د خلکو له خوا و ټاکل شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۵. د ټاکلو کړنلاره او میکانیزم په خلکو پورې اړه لري او یوه اجتهادی مساله ده، کېدای شي، انتخابات وی، کېدای شیو شورای حل وعقد وی، کېدای شي بل څه میکانیزم خلک وړاندیز کړي.

خو اساسي مساله دغه ده، چې خلکو ته حق ورکړی شي، عدالت تامین شي، امنیت ټینګ شي او د اسلامی شریعت احکام پلی شي، دا مهمه نه ده چې د دغو اهدافو لپاره د نظام نوم څه وي، امارت وی، جمهوریت وی، خلافت وی که ....
دا به د استعمار یوه بله لوبه وي، چې موږ افغانان په دې بحثونو کې دومره سره ببل کړي، چې د خلکو د امنیت، عدالت او سوکالۍ څخه بېغوره شو، که موږ وګورو د ابوبکر الصدیق په خلافت او د عمر ابن الخطاب په امارت او علی کرم الله وجه په امامت کې د اسلامی نظام هدف یو ؤ، د خلکو سره مشوره، خلکو ته حق ورکول، دعدالت تامین، د امنیت ټینګښت ... هغه څه چې موږ یې ساری په معاصر جمهوریت، امارت او خلافت کې نه شو موندلی..

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ